DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۷۶۵

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ل

لسم کال - دویمه دوره، ۷۶۵ مه گڼه، پر له پسې ۱۸۳۲ گڼه، د ۱۳۸۹ ل ـ د غوايي ۱۱ مه - د شنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د جمادي الاول ۱۷ مه د ۲۰۱۰ دمی لومړۍ

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

براثریک انفجاردرجنوب افغانستان
یک سربازناتو کشته شد

نیروهای ناتوبه روز جمعه اعلام کرد، براثر انفجار بمب کنترول ازراه دور یک سرباز نیروهای بین المللی کمک به امنیت افغانستان (آیساف) کشته شده است.

براساس گزارش خبرگزاری فرانسه این رویداد درجنوب افغانستان رخ داده است، اما درگزارش ازملیت وشهرت وی چیزی ص۳

یو شمېر وکیلان:
د امنیت د خرابېدو اصلي لامل بهرني ځواکونه دي

د پارلمان یو شمېر وکیلان وایي، چې په هېواد کې د امنیت د خرابېدو اصلي لامل بهرني ځواکونه دي.

وکیلان دغه ځرګندونې وروسته له هغه کوي، چې امریکایي ځواکونو د پنجشنبې پر شپه په ننګرهار ولایت کې د پارلمان د یوې وکیلې صفیې صدیقۍ پر کور عملیات ترسره کړل او د هغې یو نږدې خپلوان یې وواژه.

تر دې پېښې وروسته، وړمه ورځ سهار په سلګونو کسانو د سره رود ولسوالۍ په نظر اباد سیمه کې لاریون وکړ او د امریکایي ځواکونو پر ضد یې شعارونه ورکول. لاریون کوونکو یاده شوې لویه لاره د سهار تر شاوخوا لسو بجو پورې تړلې وه.

په ولسي جرګه کې د ننګرهار د خلکو استازی ډاکټر غلام فاروق مېرنی د صفیې صدیقي پر کور د بهر نیو ځواکونو عملیات غندي او وایي، چې دا یو غیر انساني او غیر اخلاقي عمل دی.

هغه د غویي پر ۱۰ مه وویل، چې بهرنیان په افغانستان کې د هېڅ ډول قانون تابع نه دي. د مېرني په وینا، ننګرهار د سولې کور دی او په دې ولایت کې د وروستیو نا امنیو اصلي عاملان هم بهرنیان دي.

نومورې زیاتوي، چې صفیه صدیقي یوه هېواد دوسته ښځه ده، هغه او د هغې خپلوان په هېڅ ډول د دولت له وسلوالو مخالفینو سره لاس نه لري. په ولسي جرګه کې د غزني د خلکو استازی حاجي خیال محمد حسیني وایي، چې د بهرنیو ځواکونو له خوا د هر افغان کور په خپل سر پلټل، هغه که وکیل او که عادي افغان وي، یو غیر قانوني، غیر اسلامي او غیر انساني عمل دی.

هغه وویل: ((د بهرنیانو پر وړاندې د وکیل د مصونیت خبره هېڅ مطرح نه ده.))

نومورې زیاته کړه، چې هره ۳مخ

د کابل - غزني د لویې لارې امنیت ملي اردو ته و سپارل شو

چارواکي وایي د میدان وردګو او غزني ولایتونو ترمنځ د غځېدلې لویې لارې د امنیت چارې یې ملي پوځ ته سپارلې دي.

په تېرو څو کلونو کې په پرله پسې ډول پر دغې لویې لارې د وسلوالو طالبانو له لوري بریدونه او نښتې شوې دي. د کابل غزني تر منځ دغه څه باندې سل کیلومتره لویه لاره تر دې مخکې د پولیسو، ملي پوځ او نور امنیتي ځواکونو له لوري په ګډه ساتل کېده، خو د نوي پرېکړې له مخې به یوازې ملي پوځ دغه دنده تر سره کوي.

د میدان وردګو والي محمدحلیم فدایي وویل: ۳مخ

په کلات کې پر نجونو تېزاب وپاشل شول

سخت زړو سخت دریځو د بلوچستان ایالت د کلات په سیمه کې پر تنکیو ماشومو نجونو تېزاب پاشلي او هغوی یې سختې ژوبلې کړې دي. دا حملې په کندوز کې په دریو شوونځیو کې د مسموم کوونکو موادو له شیندلو لږ وروسته کېږي، چې په ترڅ کې یې تر اتیا زیاتې زده کوونکې نجونې مسمومې شوې.

ویل کېږي، چې د کلات پر دې برید بلوځو ملتپالو سخت عکس العمل ښوولی دی. دا په یوه غیر پښتني سیمه کې دویم برید دی، چې پر نجونو کېږي.

د کلات پولیسو وویل، چې د پنجشنبې پر ورځ ناوخته دوو تنو نامعلومو موټرسایکل سپرو پر دریو نجونو تېزاب وشیندل. اته کلنه صایمه ۳مخ

که حکیم الله مسود مړ یا ژوندی وي، نور د طالبانو مشري نه کوي

وروسته له دې چې د پاکستاني طالبانتو د مشر حکیم الله مسود د نه وژل کېدو په باب د پاکستان د ډان ورځپاڼې له مخې راپورونه خپاره شول، د امریکا دفاع وزارت وویل، چې که نومورې وژل شوی وی یا نه وي، هغه نور په سیمه کې د طالبانو له مشرۍ لوېدلی دی. د پینتاګون (دفاع وزارت) ویاند او مطبوعاتي رییس جیف موریل د پنجشنبې پر ورځ ناوخته خبریالانو ته وویل: «زه د حیکم الله مسود د برخلیک په باب دقیقاً څه نه شم ویلی.»

په جنوري کې د پاکستان استخباراتو راپور ورکړ، چې حکیم الله مسود د امریکا د بې پیلوټې الوتکې په برید کې وژل شوی دی خو روانه اونۍ د ۳مخ



وکیل صاحبانو نور مو څه حال دی؟!

۲

په افغانستان کې د اوبو لګولو نوی سیستم پیلېږي

د افغانستان د کرنې وزارت وایي، د روان کال په اوږدو کې به د هېواد په یو شمېر ولایتونو کې د میلیونونه ډالرو په لګښت د اوبو لګولو ۳۰ داسې پروژې پلې کړي، چې له مخې به یې زر ګونه هکتاره ځمکه خړوبېږي.

نوې عملي کېدونکې پروژې د بندونو، د اوبو د زېرمو او د څاځکو د نوي او عصري سیسټم پر مټ د بوتو د اوبو کولو پروژې دي چې د کرنې وزرات د معلوماتو له مخې به ډېر ژر وربانډې کار پیل شي.

ښاغلی فیض وایي د نویو پروژو له عملي کېدو سره به په ښلابېلو ولایتونو کې شاوخوا درې لکه کروندګرو ته د کرنې او د ځمکو د خړوبولو اوبه برابرې شي او زر ګونه هکټاره ځمکه به خړوبه شي.

د چارواکو په وینا روان کال په اوږدو کې دېرش پروژې به، په بدخشان، تخار، کندوز، بلخ، بامیانو، بغلان، کاپیسا، پروان، غزني، لوګر، غور، کابل، ننګرهار او لغمان ولایتونو کې پلې شي.

که څه هم په نوره نړۍ کې اوس د کرنې سیستم عصري شوی ۳مخ

فرانسویانو ومنله، چې ځلور ملکي وګړي یې وژلي دي

د فرانسې دفاع وزارت د پنجشنبې پر ورځ اعتراف وکړ، چې په افغانستان کې د دوی خواکونو د روانې اپریل میاشتې په لومړیو کې ځلور تنه ملکي افغانان وژلي او یو تن یې ټپي کړی و. له پاریس څخه د لوېدیځو رسنیو د راپور له مخې د فرانسې پوځ وویل، چې د دوی تر پلټنو وروسته څرګنده شوه، چې د اپریل پر شپږمه د کاپیسا ولایت په تګاب ولسوالۍ کې د دوی خواکونو سهواً ځلور تنه عام افغانان وژلي او یو تن هم ټپي کړی و. د فرانسې پوځ د دې پېښې په اړه تر تحقیقاتو وروسته ویلي، چې د دوی خواکونو له یوې اوږدې جګړې وروسته یوه اووه کسیزه ډله تعقیبوله چې د یوه دېوال له شا یې پر دوی د برید تیاری نیوه. د فرانسې د پوځ یوه ۳مخ

عاطفه منصوری:

مرد سالاری یکی از عوامل عمدهٔ خودسوزی ها بوده میتواند

هفت زن و دختر به اثر خودسوزی در هرات جان باخته اند

علل عمدهٔ افزایش خود سوزی ها را فقر، بی سوادی، عدم رعایت حقوق زنان و بخصوص خشونت زن علیه زن تشکیل میدهد

مسوولان شفاخانهٔ سوختگی هرات میگویند که امسال ده واقعهٔ خودسوزی زنان و دختران در شفاخانه ثبت شده و هفت واقعه، منجر به مرگ شده است.

داکتر محمد عارف جلالی رییس شفاخانهٔ سوختگی هرات به آژانس خبری روز گفت که این واقعات از آغاز سال جاری تا حال در زون غرب شامل هرات، فراه، غور و بادغیس بخصوص در هرات صورت گرفته و قربانیان به شفاخانه سوختگی انتقال گردیده اند.

وی افزود که هفت زن و دختر به علت سوختگی شدید، جان باخته و سه تن دیگر زنده بوده و تحت تداوی قرار دارند.

تازه ترین واقعه ، شب سه شنبهٔ ص۳

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

اوس که پوه نه وئ، نو پوه شئ!

په افغانستان کې د بهرنیو پوځونو خپلسري عملیات او د هغوی له خوا د بېګناه وګړو وژل، نیول او ځورول اوس پر یوه ګونګ سریال بدل شوي او د دغه ګونګ سریال کیسه هم داسې ګونګه روانه ده، چې هېڅوک هم وربانديې نه پوهېږي. نور د دې مسئلې یادول رسنیو ته هم د شرم خبره ده او رسنۍ یې پر یادولو خجالت باسي، ځکه داسې ورځ به نه وي، چې بېلابېلې رسنۍ په دې اړه راپورونه خپاره نه کړي، همدا موضوع هره ورځ د رسنیو د سرټکي وي، بهرني پوځونه هره ورځ ولسي وګړي وژني او یا یې ځوروي، هره ورځ خپلسري عملیات کوي، هره ورځ د خلکو کورونه پلټي، د خلکو عزت او ناموس ته په سپکه ګوري او بلاخره داسې کارونه ترسره کوي، چې هېڅ دین او مذهب یې نه مني.

په همدې لړ د اپرېل په لومړیو کې فرانسوي پوځیانو په کاپیسا ولایت کې ځلور تنه ولسي وګړي ووژل، چې بلارخره دغو پوځیانو د پنجشنبې پر ورځ وَمنله، چې دوی دا وګړي سهواً وژلي وو او ټول ولسي وګړي وو. همداشان د همدې میاشتې په جریان کې په بېلابېلو ولایتونو کې بهرنیو پوځونو خپلسري عملیات کړي، ولسي وګړي یې وژلي او ځورولي دي، چې د ټولو پښتنو له راوړلو دلته تېرېږو، بلکې د ځو وروستیو ورځو پر پښتنو به خبرې وکړو. په دې توګه پرون د زابل ولایت په شهرصفا ولسوالۍ کې بهرنیو پوځونو پر یوه ملکي موټر برید وکړ، چې په پایله کې یې درې تنه ښځې ووژلې او دوه تنه نارینه یې ټپیان کړل. دا خو د ولسي وګړو ورځنی حال دی، چې پرې تېرېږي، خو خبره اوس د ولس استازو ته هم ورسېده. اوس د ولس استازي هم نه پرېږدي. د پنجشنبې پر شپه بهرنیو پوځونو د ولسي جرګې د یوې غړې صفیې صدیقي پر کور خپلسري عملیات ترسره کړل او پر عملیاتو سربېره یې د هغې یو نژدې خپلوان هم ووژه، نو اوس چې بهرنیو پوځونو د ولس پر استازو هم خپله وحشیانه میله راټیټه کړه، نو پر ولس به څه ایله وکړي، هسې هم ولسي وګړي ورته د لوټو غوندې ښکاري. دا پښتنه او همداشان د ولسي وګړو د وژنې، ځوروڼې او نیونې داسې نورې پښتنې هغه پښتنې دي، چې رسنیو په ډاګه کړي، خو که د هېواد ګوټ ګوټ په حقیقي توګه وپلټل شي، هره ورځ د ولسي وګړو پر سر تندر رالوېدلی وي، هره ورځ ولسي وګړي د بهرنیو پوځونو له خوا ربړول کېږي او کړول کېږي او په هغو سیمو کې چې طالبان په کې وجود لري، دوی ته یوه ښه پلمه همداده، چې دوی طالبان وژلي، نیولي او ځورولي، خو که په رښتیني توګه مسئله وپلټل شي، نو تر ډېره یې د طالب په نامه ولسي وګړي یا وژلي او یا هم ځورولي وي او دا لړۍ اوس ښه په درز کې روانه ده او ان تر ډېره بریده په ناارامه سیمو کې رسنۍ هم د دوی تر کنټرول لاندې دي او د افغان ولس پر وړاندې د دوی د وحشیانه کړنو راپور د دوی له خوښې پرته نه شي خپرولای.

نو ای د دې ځور ېدلي ولس درنو استازو! اوس چې خبره تر تاسې هم راورسېده او تاسې یې هم د خپل وحشت په لومو کې راښکېل کړئ، نو د خدای لپاره اوس خو لږ فکر وکړئ، اوس که پوه نه وئ، نو پوه شئ، اوس خو له دې نه عبرت واخلئ، چې بهرني پوځیان اوس دومره خپلسري او خپلواکي شوي، چې پر ولس څه، چې پر تاسې هم ایله نه کوي، نو اوس هرڅه په تاسې پورې اړه لري، چې د خپل ځان او د هغه ولس په اړه چې تاسې یې استازي یئ او تاسې ته یې رایه درکړې، څه تصمیم نیسئ؟!

وکیل صاحبانو نور مو څه حال دی؟!

شاهد غزنیوال

له معمول سره سم د پنجشنبې پر شپه د کابل حکومت بهرنیو دوستانو! (امریکایي ځواکونو) د ننګرهار د سره رود ولسوالۍ د نظراباد په کلي کې د پارلمان د یوې وکیلې آغلې صفیې صدیقي پر کور چاپه اچولې او د هغې له کورنۍ څخه یې د امان الله په نامه یوتن شهید کړی او ډېرشمیر نورې وهلي او ډبولي دي.

دآغلې صفیې له قوله چې امریکایي ځواکونو د هغوی د کور دروازې ماتې کړې او د کورشخصي سامانونه یې ورته ګډوډ کړي.

تردې څو ورځې له مخه په لوګر او خوست ولایتونو کې هم امریکایي ځواکونو په ورته عمل لاس پورې کړی او د سیمې څوتنه زده کوونکي او بېوزله ولسي کسان یې په شهادت رسولي وو. اوس داپوښتنه له چا څوک وکړي، چې اخر دغه بهرني دوستان به ترکومه په افغانستان کې دغسې ناکردوته دوام ورکوي. ترکومه ځایه چې خبره د کرزي صاحب په واک اوصلاحیت پورې تړاو لري، هغه خو به د نرغوندي دې پښتې ته هم د تېرو زرګونو پښتوپه ځیر یوپلاوی وټاکي اوهغوی ته به د پلټونو دستور صادر کړي.

نورخونو د ښاغلي ولسمشر تنفیذي ځواک ټولوته معلوم دی، چې د داشاني پښتو د مخنیوي په اړه هغه یوازې له خپلونارغو ستر ګوځخه د ځوځاځکو اوښکو په تویولو وس لري او بس. د پارلمان وکیلانو اویا د دوی په اصطلاح د ملت استازو ته خوځکه تمه نه شي کېدای، چې هغوی او د هغوی کورنۍ په خپله په لسګونو ځله د امریکایي ځواکونو د داشاني خرمستیو ښکارشوي، وهل شوي، ډبول شوي او پر نیمه شپه یې امریکایي پوځیان د کورونو پر کنډوونو وراوښتي.

پښتانه وایي چې د مارګیر مرګ د مار له لاسه وي! اخر به خبره دې ته رسېږي، چې امریکایي ځواکونه به دغه په اصطلاح د ملت استازي هم له طالبانو او مخالفانو سره د همکارۍ په تور د شپې د چاپې پر مهال په خپلو کورونو کې وژني او یا به یې لاس تړلي خپلوپوځي مرکزونو ته په تړلوستر ګو له ځانه سره بیایي او له امریکایي پوځیانو پرته به یې نور هېڅوک د خلاصون توان نه لري.

زمور د دغې ادعا ښکاره ثبوت دآغلې صدیقي پر کور د سلو تنو امریکایي پوځیانو له خوا د چاپې اچولوپښتنه ده. که څه هم چې آغلې صفیې صدیقي دا ویلي، چې نومورې د عملیاتو د شپې ترماخوستن پورې په کور کې وه او بیا وروسته بل چېرې تللې وه، خو زمور د هېواد محیطي او اوسني ناوړه امنیتي شرایط بیا دآغلې صدیقي د دغې وینا پرخلاف د دې ښکاروندوي کوي، چې هغه د عملیاتو پر مهال په خپل کور کې موجوده وه. ځکه د هغې تعلق د سره رود ولسوالۍ د نظرآباد کلي په یوې درنې پښتني کورنۍ پورې دی او زمور په پښتنو کلیوالي سیمو کې معمولاً تورسرې د شپې مهال ناوخته له کوره نه وځي، که فرضاً چاته د وتلو ضرورت هم وي، بیا امنیتي شرایط پیشګام باشند، بازهم باید برای آن چاره یی اندیشید.

افغانستان اکنون چنین وضعی دارد. بیشتر از ۶۰ درصد از درآمد ناخالص ملی این کشور، آن گونه که برای سال ۲۰۱۱ پیشبینی شده، برای امور امنیتی در نظر گرفته شده است. چیزی بالغ بر ۱۱/۶ میلیارد دالر. اگر نتوان به این موضوع غیر قابل باور گفت، واقعا چه چیز بهتری می توان به آن لقب داد.

از این رو، جای تعجب نیست که مردم افغانستان خواستار راهی برای خروج از اوضاع کنونی هستند.آنها معتقدند با مذاکره با طالبان می توان به جنگ و درگیری پایان داد.اما امریکا موافق نیست.امریکا و متحدان ناتوی آن خود را برای یک عملیات بزرگ در استان جنوبی که شاید بزرگترین عملیات از زمان شروع جنگ باشد،آماده می کنند. یک نظرسنجی که با حمایت ارتش امریکا انجام شده است،نشان می دهد،نود و چهار درصد ساکنان قندهار از مذاکره با طالبان حمایت می کنند و تمایلی به رویارویی نظامی ندارند.

روزنامهٔ نیویارک تایمز نیز، هفتهٔ گذشته گزارش داد، در برخی از مناطق افغانستان، وسایط نیروهای ناتو و امریکایی در نظر افغان ها، به خطرناکی ایست های تلاشی طالبان و بم های جاده هستند. بدین ترتیب، امکان ترمیم جایگاه امریکا به عنوان عامل قتل غیرنظامیان از بین می رود.

این روزنامه افزود، گزارش های اخیر دربارهٔ اقدامات غیرانسانی نیروهای ناتو و امریکایی نیز، اوضاع را بدتر کرده است. سه هفته قبل، ناتو اعتراف کرد که نیروهای عملیات ویژهٔ امریکا پنج غیرنظامی را از جمله سه زن که دو تن از آنها باردار بوده اند، کشته است. ناتو قبلا در این باره ص۳

دې ته نه دي مساعد، چې ځوک دې په اسانۍ سره د شپې ناوخته له کوره وتلوته زړه ښه کړي. خوآغلې صدیقي خور بیا ځکه د معمول اومحیط خلاف د داسې ځرګندونو توضیح ته اړ ایستل شوې، چې هغه په خپل کورکې د موجودیت په صورت کې د امریکایي ځواکونو عملیات د خپل پارلماني حیثیت لپاره کسرشان بولي. خوکه حقیقت ته وکتلی شي، نو په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو موجودیت په مجموع کې د ټول افغان ولس د خپلواک حیثیت لپاره کسرشان دی؛ ځکه زمور د خپلواک هېواد سپېڅلی حریم په مجموع کې د هر افغان لپاره د کور د حریم حیثیت لري او د خپل کورپه حریم کې د اجنبي موجودیت هغه څه دي چې، د افغاني اوپښتني معاشرې له ټولو انساني، اسلامي او اخلاقي معیارونو سره منافات اومغایرت لري.

له پورتنۍ ناوړې پېښې څخه داخبره نوره ډېره واضحه ښکاري، چې امریکایان اصلاً د افغانانو د ذلت، ځوروني اوتحقیر په غرض افغانستان ته راغلي، نه د دوی په اصطلاح د افغانانو د هوسایني، ترقۍ اونېکمرغي لپاره، ځکه امریکایانو به په نورو داشان وحشیانه کړو وړوکې د خپل ځان دبرائت لپاره وژل شوي کسان د دولت مخالفان یادول، خو دآغلې صدیقي دکورنۍ په اړه خو د دې تور احتمال هم ناشونی برېښي. ښه نو بیا ولي امریکایانو په دغه غیر انساني عمل لاس پورې کړ؟

داهغه پوښتنه ده، چې ایله اوس به یې د صفیې صدیقي فکر اوماغزه ناارامه کړي وي، خو عام فغانان له تېرو ۹ کلنو راهیسې د هغې د حکومت د خپلسرودوستانو له زرګنو داسې وحشیانه کړو وړو سره مخ دي.

ایا ولسمشر کرزی، د هغه دکابینې غړي اوپارلماني وکیلان به د دغې زړه دردوونکې پېښې په اړه هم خپل مسوولیت د پلاوي تاکلو اوتحقیقاتوپه ترسره کولو ترسره کړي اوکه به د خپل انساني اوافغاني ضمیرله مخې د بهرنیو یرغلګرو پر وړاندې داسې څه وکړي، چې یرغلګرو ته عبرت او د صفیې صدیقي خور په ځېر د ټولوځور ېدلو هېوادوالو دځور، توهین اوتحقیر د جبیرې لامل وګرځي؟!!

آغاز پایان یافتن جنگ افغانستان؟

سعید احمدی

تصور کنید که ایالات متحدهٔ امریکا مجبور بود، بیش از ۶۰ درصد از درآمد حاصل از تولید ناخالص ملی خود را صرف پولیس و نیروهای امنیتی خود کند. به طور مثال هم اکنون بودجهٔ وزارت دفاع این کشور که تازه بسیار حجیم و بزرگ شده، تنها پنج درصد از درآمد ناخالص ملی این کشور است و آنچه برای پولیس هزینه می شود نیز، چیز کمتری از یک درصد این درآمد است. با این حساب، مطمینا امریکا اجازه نمی داد کشورش به این حد از هزینه کردن برای مسایل امنیتی برسد، اما این موضوع ارزش فکرکردن را دارد؛ چرا که قطعا هرکشوری در چنین شرایطی به دنبال راهی برای بیرون آمدن از یک جنگ داخلی هولناک می گردد؛ چرا که متحمل شدن چنین مصرفی در اساس کار عاقلانه یی نیست؛ حتا اگر خارجی ها برای دادن آن

پاکستان با تروریزم جنگ...

برنامهٔ اروپایی تسهیل دسترسی به مواد غذایی، نیروهای خود را متحد کردند.

این برنامه یک میلیارد یورویی قرار است، با بحران غذایی مبارزه کرده و تولیدات زراعتی را در کشورهای در حال انکشاف، تقویت کند.

به گزارش خبرگزاری ایرنا، پاکستان نیز، یکی از اولویت‌های این برنامه است. ساکنان مناطق هم مرز با افغانستان محرومترین مردم این منطقه محسوب می‌شوند.

افزایش اخیر بهای مواد غذایی، پیامدهای فاجعه باری بر روی جوامع این کشور داشته که برای ادامهٔ زنده گی شان به محصولات زراعتی تکیه دارند.

به گفتهٔ مسوول برنامهٔ جهانی غذا در پاکستان، ۸۰ درصد مردم پاکستان با درآمد کمتر از دو دالر در روز زنده گی می‌کنند؛ اگر به این فکر کنیم که بهای مواد اولیه دو برابر شده و پاکستانی‌های طبقهٔ متوسط نیمی از درآمدشان را به مواد غذایی اختصاص می‌دهند می‌توان تصور کرد که خانواده‌های پاکستانی برای صحت اولیه و فرستادن کودکان شان به مکتب، با کمبود پول مواجه می‌شوند.

مرد سالاری یکی از عوامل...

گذشته بود که یک دختر جوان در ناحیهٔ اول شهر هرات دست به خودسوزی زد .

داکتر جلالی میگوید که این دختر تا بیش از ۷۵ درصد سوخته و حالت صحی اش وخیم است و احتمال زنده ماندنش کم است.

رییس شفاخانهٔ سوختگی هرات علاوه کرد که این رقم به تناسب مدت مشابه سال گذشته پنج درصد افزایش را نشان میدهد.

محمد انور وزیری یکتن از کارشناسان امور اجتماعی در هرات، علل عمدهٔ افزایش خود سوزی ها را فقر، بی سوادی، عدم رعایت حقوق زنان و بخصوص خشونت زن علیه زن عنوان کرده میگوید که بیشتر، مادر و خواهر شوهر ، علیه زن عروسی شده ، خشونت روا میدارند. این درحالی است که مسوولان شفاخانهٔ سوختگی هرات در هشتم مارچ روز جهانی زن که مصادف با ۱۷ حوت سال ۱۳۸۸ بود، اعلان کردند که در آن سال ۵۲ زن و دختر دراین ولایت به اثر خودسوزی جان های شانرا از دست داده اند.

این عده زنان شامل ۸۷ واقعهٔ خودسوزی بودند و صرف ۳۵ تن شان، زنده ماندند.

به گفتهٔ مسوولان ، ۸۵ مورد خودسوزی زنان و دختران در سال ۱۳۸۷ در این ولایت وجود داشت که ۵۹ مورد آن، منجر به مرگ شده بود. مسوولان میگویند که این آمار ، جدا از آمار سوختگی است که زنان و دختران به اثر انفجار بالون گاز ، آتش سوزی طبیعی و یا واقعهٔ دیگر میسوزند و یا میمیرند و یا مجروح میشوند.

عاطفه منصوری رییس موسسهٔ انکشاف جامعهٔ نوین برای زنان در هرات ، میگوید که نا امنی باعث شده که آنها نتوانند در روستا ها رفته و برنامه های آگاهی دهی را به راه بیندازند.

منصوری می افزاید : ((مرد سالاری یکی از عوامل عمدهٔ خودسوزی ها بوده میتواند.))

بر اثر یک انفجار درجنوب...

گفته نشده است. در کل، درسال جاری میلادی تا کنون ۱۷۲ سرباز خارجی در افغانستان جان شان را ازدست داده اند. در سال ۲۰۰۹ ، بر اساس آمار وگزارش های خبرگزاری فرانسه، با استفاده از داده ها از" icasualties.org"یا صفحه اینترنتی "تلفات" ، ۵۲۰ سرباز خارجی در مبارزه با طالبان درافغانستان کشته شدند.

براساس این آمار وارقام و مطابق به بررسی های این خبرگزاری، ازآغاز جنگ که در سال ۲۰۰۱ آغاز شد؛ سال ۲۰۰۹ مرگبارترین سال برای نیروهای خارجی بوده است.

ناتو و ایالات متحده برای مبارزه با طالبان و دیگرشورشیان هزاران سربازاضافی خود را به افغانستان می فرستند. با استقرار نیروهای تازه نفس نظامی، قرار است به شمار نیروهای خارجی درافغانستان به ۱۵۰ هزارنفربرسد. اعزام نیروهای اضافی ایالات متحده امریکا مدتی است آغازشده و شماری از آنها در ولایت قندوز در شمال افغانستان مستقرشده اند.

که حکیم الله مسود مړ یا...

پاکستان د استخباراتو په قول ځینو راپورونو، چې ډان ورځپاڼې هم خپور کړی، ویلي چې نوموړی په برید کې وژل شوی نه دی. یاده دې وي چې ځینو رسنیو د حکیم الله مسود پر ځای د بیت الله مسود د ژوندي پاتې کېدو راپور ورکړی او د دغو دوو د نومونو تفکیک یې سم نه دی کړی. حال دا چې بیت الله مسود ډېر مخکې وژل شوی او پرځای یې حکیم الله مسود وزیرستاني طالبانو مشر ټاکل شوی و.

خپره شوه چې له حکیم الله مسود سره ناست دی، د هغه دوژلو کلکه اراده وکړه.

په افغانستان کې داوبو لګولو ...

خو په افغانستان کې لا هم په دودیز او ډېر زاړه ډول خلک کښت او کروندې خړوبوي. خو په دې ورستیو کلونو کې د پرله پسې وچکالیو له کبله د کرنې هغه زور دودیز سیستم هم بیخي ګډوډ شوی او کرنه اغېزمنه شوې ده. د بي بي سي د راپور له مخې، د بهلابهلو شمېرو له مخې دا مهال د هېواد زیاته سلنه ځمکه چې دکرنې بالقوه ورتیا لري داوبو د نشتوالي له امله شاړه پرته ده.

فرانسویانو ومنله، چې ځلور...

ویاند وویل، د دوی له لوري پر دې ډلې د برید پر وخت په شاوخوا کې نور ځوک نه ښکارېدل، نو دوی اجازه ترلاسه کړه چې ډزې وکړي، خو د دوی مرمۍ په پنځو ځوانانو ولګېدې، چې ټول ملکیان وو. د فرانسې پوځ وایي چې د وژل شویو کسانو کورنیو ته نغدې پیسې او نور وسایل د تاوان په توګه ورکوي. فرانسه په افغانستان کې له امریکا، برېتانیا او جرمني وروسته تر ټولو زیات پوځیان لري. د تاند وېبپاڼې د راپور له مخې، د نړیوالو ځواکونو له لوري د بېګناه افغانانو مرګ ژوبلې په افغانستان کې د هغوی پرضد د خلکو کرکه او دوښمني پارولې ده او سره له دې چې ولسمشر کرزي او د ناټو او امریکایی ځواکونو عمومي قوماندان جنرال مک کریسټل بیا بیا ویلي، چې باید د ملکي افغانانو د تلفاتو مخه ونیول شي، د شپې په مخه تلاشۍ پای ته ورسېږي، بیا هم بهرني ځواکونه خپلسرو بریدونو ته دوام ورکوي.

د کابل - غزني د لویې لارې...

((د نوي ګام په پورته کېدو سره به د دغې لویې لارې امنیت د تېر په پرتله ښه او تګ راتګ به پرې ډاډمن شي.))

ده وویل دغه پرېکړه، له ملي پوځ، ملي پولیسو، ملي امنیت او بهرنیو ځواکونو سره تر سلا مشورې وروسته شوې او لامل یې د چارو ښه سمبالښت او اغېزمنتیا ده.

ښاغلي فدایي زیاته کړه، چې ملي پوځ د پولیسو په پرتله ښه روزل شوی او سمبال شوی دی او د پولیسو په پرتله د امنیت په راوستلو کې هم ډېر اغېزمن ښکاري.

د کابل - غزني پر لویه لاره له څو کلونو راهیسې وسلوال بریدونه او د ریموټ کنټرول او شلخي ماینونو چاودنې کېدې، خو والي فدایي وایي ډاډه دی، چې د نوي ګام پر مټ به د بریدونو روانه څپه یو څه تم کړي. د بي بي سي د راپور له مخې، پر دغې لویه لاره ډېر بریدونه د بهرنیو ځواکونو پر اکمالاتي کاروانونو او افغان امنیتي ځواکونو کېدل، چې وخت نا وخت به یې ولسي خلکو ته زیان اړاوه.

په کلات کې پر نجونو ...

ځوارلس کلنه شکیله او شل کلنه فاطمه په کلات ښار کې پنډراني کلي ته پلې روانې وې، چې تېزاب پرې وپاشل شول.

تر پاشلو وروسته سخت زړي برید کوونکي وتښتېدل، خو ژوبلې شوې نجونې د کلات روغتون ته یووړل شوې.

د تاند وېبپاڼې د راپور له مخې، تر دې مخکې دوې اونۍ دمخه د بلوچستان په دالبندین کې د دوو نجونو پر مخونو تېزاب پاشل شوي وو، چې وروسته یې د غیرتي بلوڅ په نامه یوې ډلې مسوولیت پر غاړه واخیست.

د امنیت د خرابېدو اصلي...

ورځ د کابل _ کندهار پر لویه لار باندې د دولت وسلوال مخالفان په رناوړځ عملیات کوي، خو د بهرنیو ځواکونو له خوا نه تعقیبېږي.

د حسیني په وینا، د بهرنیو ځواکونو له خوا خپلسري عملیات کول، هېڅ ته د منلو وړ نه دي او دا کار بدې پایلې لري. هغه زیاته کړه، چې د بهرنیانو د داسې اعمالو له لاسه ورځ تر بلې په هېواد کې نا امنۍ زیاتېږي. د پژواک د راپور له مخې، په ولسي جرګه کې د پکتیا د خلکو استازی پاچاخان ځدران وایي، چې د بهرنیو ځواکونو له خوا د افغانانو کورونه پلټل له افغاني فرهنګ سره په ټکر کې دي، بهرنیان په افغانستان کې نابلد او په هر کار کې غلطي کوي.

هغه زیاته کړه، داچې اوس یې د ولسي جرګې د یوې وکیلې کور پلټلی دی، هره ورځ د عادي افغانانو کورونه پلټل کېږي، ټول افغانان یو حیثیت لري. ځدران وویل: ((مور خپل امنیتي ځواکونه لرو، کله چې د بهرنیانو په چاشک راشي، نو د افغان ځواکونو په سلا مشوره دې په افغاني کولتور ولاړه تلاشي وکړي.)) د هغه په وینا، د بهرنیو ځواکونو له خوا په خپل سر د کورونو پلټل د هېواد په روانې امنیتي وضعې ناوړه اغېزه اچولې ده.

د ایران په یزد کې د افغانانو ځوروول او د کورونو سوځول دوام لري

د ایران په یزد ولایت کې مېشت افغان کډوال وایي، چې د روانې اونۍ د یکشنبې له ورځې په مهریز ولسوالۍ کې ایرانیان د دوی پر کورونو بریدونو او د مال او شتمنیو لوټ ته دوام ورکوي.

داسې راپورونه هم شته، چې ځینې افغانان یې ژوندي سوځولي دي.

د راپورونو له مخې وروسته له دې چې د شنبې پر ورځ یو ایرانی د یزد په مهریز ولسوالۍ کې ووژل شو او مړی یې په هغه سیمه کې ومونډل شو، چې افغانان په کې اوسي، د سیمې اصلي اوسېدونکو ایرانیانو په مهریز ولسوالۍ کې د افغانانو پر کورونو بریدونه پیل کړي او د لسګونو افغانانو کورونه یې لوټ کړي. ویل کېږي چې ایرانی له خپل موټر سره د شنبې پر ورځ د نامعلومو کسانو له لوري تښتول شوی او په بې رحمۍ وژل شوی دی. د هغه د وژلو انګېزه نه ده ځرګنده شوې. له دې پېښې وروسته اکثره افغانان مجبوره شوي له مهریز ولسوالۍ ووځي او د ولایت مرکز یزد ښار ته پناه یوسي. اوس دوی د ښار په پارکونو کې د خپلو کورنیو له غړیوسره اوسي. راپورونه وایي چې د افغانانو شاوخوا ځلور سوه کورونه لوټ شوي یا ور ورته کړای شوی دی.

افغان کډوال وایي چې پولیس او امنیتي ځواکونه په مهرېزولسوالۍ کې د افغانانو پر کورونو د بریدونو نندارې کوي. خو د مهریزولسوال ویلي، چې نور به هیڅ افغان ته اجازه ورنه کړي چې په دې ولسوالۍ کې ژوند وکړي.

ډېر ټپیان، چې سوځېدلي دي، په روغتونونو کې بستر دي او لږ تر لږه سلو کورنیو له مهرېز ولسوالۍ نورو سیمو ته پناه وړې ده او له ببرې خپلو کورونو ته ببرته تللای نه شي.

د تاند وېبپاڼې د راپور له مخې، پر ۱۳۷۵ لمریز کال وروسته له دې چې یو تن د نهونجونواو ښځود وژلو او جنسي تېري په تور ونیول شو او په رسنیو کې افغان معرفي شو، د ایران په بهلابهلو سیمو کې پر افغانانو بریدونه وشول او د ځینو راپورونو له مخې شاوخوا ځلور سوه افغانان ووژل شول او دا لړۍ تر هغو روانه وه، چې د ایران حکومت مجبور شو چې حقیقت ووایي، چې نیول شوی کس افغان نه بلکې ایرانی دی..

آغاز پایان یافتن...

پنهان کاری کرده و مدعی شده بود که نیروهای عملیات ویژه جسد سه زن را که دست های شان بسته بوده است، پیدا کرده اند. در ضمن در کنگرهٔ امریکا نیز، یک شورش بر ضد جنگ در حال شکل گیری است.سه نماینده از مجلس نماینده گان لایحه یی را پیشنهاد کرده اند که بر اساس آن، بارک اوباما باید تاریخ عقب نشینی نیروها را از افغانستان مشخص کند. این لایحه به سرعت ۲۹ حامی پیدا کرد و احتمالا تا چند هفتهٔ آینده این تعداد به یکصد نفر می رسد. فشارهای کنگره بر دولت امریکا باعث شد، زمان خروج نیروهای این کشور از عراق مشخص شود. همین روش به پایان جنگ افغانستان نیز منجر می شود. اکثر امریکاییان مخالف این جنگ هستند و هر هفته هزاران امریکایی بر نماینده گان خود در کنگره فشار وارد می کنند، تا به جنگ خاتمه دهند. فشار کنگره که در سال انتخاباتی قرار دارد، شاید بتواند، برای دولت اوباما چاره یی جز خروج از افغانستان باقی نگذارد. شورش کنگره علیه جنگ در واقع شروعی برای پایان جنگ خواهد بود.

د هند کرکټ لوبډلې،

افغان کرکټ لوبډله خطرناکه وبلله

د افغانستان د کرکټ ملي ټیم نن په خپل تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د شلو اوورونو په نړیوالو سیالیو کې د هند په شان تکړه ټیم سره مخ کېږي.

دې ته په پام سره چې کرکټ په افغانستان کې اوږد تاریخ نه لري، یوازې په دوو کلونو کې له پنځم ډویژن نه لومړي ته د افغان ټیم لوړېدل لویه بریا ده، چې د افغان ټیم په برخه شوې ده. په ویست انډیزیا غرب الهند کې د کرکټ د شلو اوورونو په نړیوالو اتلولیوکې له افغانستان سره د لومړنۍ سیالۍ په درشل کې د هند د کرکټ د ملي ټیم کیپتان خپلو لوبغاړو ته خبرداری ورکړ، چې افغان لوبغاړي کم ونه ګڼي او پوره احتیاط وکړي. ټاکل شوې ده چې نن (شنبه/ د مې لومړۍ) د افغانستان او هند ټیمونه د ۲۰۱۰ کال د شلو اوورونو په نړیواله اتلولي کې سره مخ شي.

ویل کېږي چې د ۲۰۰۷ کال د شلو اوورونو د کرکټ سیالیو اتل هند د ۲۰۱۰ کال د شل اوریزو مسابقو د اتلولۍ د مقام یو اصلي کاندید دی، خو مخکې تر دې چې دا جام لاسته راوړي، باید په لومړي پړاو کې افغانستان ته ماته ورکړي.

پاکستان با تروریزم جنگ طولانی دارد

گردآورنده: نسیم اختر



خشونت‌های فزاینده از یکسو، قرضه های سنگین پولی و کمبود شدید انرژی از سوی دیگر، طی یک سال گذشته، اوضاع اقتصادی پاکستان رابه شدت وخیم کرده و تحلیلگران معتقد اند، اقتصاد این کشور، در سال ۲۰۱۰میلادی، چشم انداز مناسبی ندارد و حتا ممکن است، مشکلات اقتصادی به ناآرامی‌های بیشتر منجر شود.

چارچوب سازمانی نهادهای وابسته به ویژه در بخش پولی و مالی پاکستان، به علت برخورداری از تجارت بین‌الملل و ارتباط مستقیم با نهادهای مشابه اروپایی و امریکایی قوی می باشد، به نحوی که، بسیاری از افرادی که دارای سمت اجرایی در این بخش می باشند، دارای سوابق خوبی در نهادهای بانکی و مالی خارجی هستند و در یک کلام از لحاظ انطباق با استندرهای روز جهانی همگام می‌باشد.

اما از دیدگاه عملکردی شاهد ضعف ساختاری در اقتصاد پاکستان هستیم که جلوه‌های آن، در شاخص های اقتصادی این کشور آشکار می‌شود. با توجه به جدی نبودن دولت پاکستان در بهره برداری از منابع طبیعی موجود، معادن این کشور با وجود شناسایی و برخورداری از ذخایر متنابه به بهره برداری نرسیده و محصولات مشابه آن در سبد اجناس وارداتی کشور قرار دارد.

کمبود سرمایه‌گذاری که نتیجهٔ آن افزایش نرخ بیکاری و بیکاری پنهان، کاهش روند تولید و صادرات و غیره بیروکراسی حاکم بر نظام اداری، وجود مفاسد اداری و شاخص پایین بهره وری، متغییر بودن سیاست‌های اقتصادی و تجارتی تک بعدی بودن صادرات کشور، صنایع نساجی و محصولات زراعتی و کاهش قدرت رقابتی در مقایسه با سایر کشورهای منطقه، در نتیجهٔ مستهلک شدن صنایع و به روز شدن تکنالوژی روز، در تولید نیاز شدید به انرژی به ویژه در بخش واردات اعم از نفت خام ، تولیدات نفتی، گاز و برق با نرخ رشد ۸تا ۱۵درصد و در یک کلام مدیریت نامطلوب انسانی و طبیعی، از مشکلات اقتصاد پاکستان محسوب می‌شود.

در مورد مسکن به علت رشد نرخ جمعیت و نیاز شدید به مسکن طی دو دهۀ آینده برای نیمی از جمعیت زیر ۱۵سال کشور و محدود بودن زمین برای ساخت و ساز فرصت زیادی قابل حصول می‌باشد که از دید آنها مخفی نمانده است.

همچنین در بخش ترانسپورت، انرژی مواد غذایی و غیره نیز، فرصت های زیادی وجود دارد که مورد توجه سرمایه‌گذاران خارجی و داخلی قرار دارد.

شاخص ها:

جمعیت : طبق آخرین برآوردها بیش از ۱۷۰میلیون تن در این کشور ساکن هستند که با نرخ رشد ۲/۱۵درصد همراه می‌باشد. برابر آمار غیر رسمی، نرخ رشد جمعیت این کشور همچنان در حد سه و نیم درصد بوده و کشور با رشد شتابانی در این سو گام برمی دارد، قریب به نیمی از جمعیت کشور، کمتر از ۱۵سال سن دارند. ترغیب به افزایش جمعیت در پرتو عقاید مذهبی و نیاز به تقویت انسانی در مشکلات فرقه یی، کمبود اطلاع رسانی کنترول جمعیت و کمبود ابزارهای کنترولی تشویقی، از مهمترین عوامل نرخ رشد بالا در کشورمی باشد. از سوی دیگر، به علت کمبود خدمت صحی در سطح کشور، طبق آمار سازمان ملل، سالانه بالغ بر ۵۰۰ هزار تن مادر و فرزند (زیر ۴سال) بر اثر مشکلات صحی و سوء تغذیه، تلف می‌شوند.

اشتغال:

نظر به ساختار سنتی جامعۀ پاکستان هنوز بخش عظیمی از اشتغال به سکتور زراعت و بخش‌های وابسته به آن، اختصاص دارد.

در عین حال، روند صنعتی شدن و انکشاف خدمات نیز، طی دو دهۀ اخیر از رشد مناسبی بر خوردار بوده و توانسته به طور مشترک جایگاه قوی تری از بخش زراعت را به خود اختصاص دهد.

بیشترین اشتغال را بخش خصوصی از طریق جذب سرمایه و حضور سرمایه‌گذاران و گسترش بخش خدمات ایجاد کرده است، در عین حال، معضل بیکاری پنهان در کشور آشکار است و بسیاری از مشاغل، پاسخگوی نیاز جامعه و فرد در این کشور نمی‌باشد. نکتۀ دیگر این است که به علت ارزانی نیروی کار در جوامع روستایی و شهرهای کوچک، به کارگیری کودکان در بخش های تولیدی، امر عادی یی است.

نرخ سواد:

شبه قاره به علل گوناگون، همچنان از کمبود اقبال عمومی به سواد آموزی در رنج است.

این منطقۀ وسیع با پوشش جمعیتی بالغ بر ۱/۵میلیارد تن، به اساس دلایل پنهان و پیدا، در کنار بسیاری از کشورهای آفریقایی قرار گرفته و پایین‌ترین نرخ باسوادی را در منطقۀ آسیا، به خود اختصاص داده است.

در شبه قاره، فردی که توان نوشتن و خواندن اسم خود را داشته باشد، با سواد شمرده می‌شود و این به منزلۀ تکمیل دورۀ مکتب نمی‌باشد؛ در عین حال، باید اذعان داشت که به علت ساختار حاکم بر نظام آموزشی کشور، افراد تحصیلکرده از موفقیت و موقعیت خوبی برخوردار باشند و سالانه دها هزار محصل باعزیمت به خارج، پشتوانۀ مهمی برای پیشرفت های علمی کشور می‌باشند.

اتحادیۀ اروپا و امریکا، سالیانه بورس های متعددی را برای جذب محصلان پاکستانی اختصاص داده و از این بابت، در جذب نخبگان کشور موفق بوده اند.

به علت هزینۀ نسبتا کم آموزش دسترسی افراد به سطوح عالی آموزشی از جمله دوره‌های ماستری و دوکتورا فراهم می‌باشد.

مسوولان پاکستانی در راستای برنامه ریزی کلان طی سال‌ها ی آینده انتظار دارند، با جذب نیروی عملی و متخصص بخش های صادرات خدمات اعم از تکنالوژی معلوماتی، بیو تکنالوژی و غیره را تقویت نموده و موفق به جذب میلیاردها دالر از بابت صادرات خدمات تخنیکی و مهندسی و نرم افزارهای داخلی باشند.

حساب‌های مالی:

قبل از تحولات منفی سال گذشته، طی هفت سال متوالی، اقتصاد پاکستان توانست، نرخ رشد شش درصد و بالاتر از آن را تجربه نماید که در پرتو این نرخ، شاخص های اقتصادی بهبود وضعیت اقتصادی را جلوه گر و زمینۀ مناسبتری را برای حضور سرمایه‌گذاران خارجی فراهم کرد.

بخش صنعت، طی یکسال گذشته، از رشد مناسبی برخوردار بوده است و با تمهیدات دولت، نقاط جدید صنعتی در کنار شهرهای بزرگ و کوچک معرفی و تسهیلات ویژه یی در این خصوص، اعطا شده است.

بورس:

بازار بورس پاکستان که یکی از بازارهای مطرح در آسیا بوده، از رشد مناسبی طی دهۀ اخیر بر خوردار بوده است؛ هر چند بازار بورس در شهرهای مختلف این کشور تشکیل شده، ولیکن سهام شاخص کشور در بازار بورس کراچی و لاهور به عنوان بازار سهام کشور، مطرح می‌باشد.

در این بین، بازار سهام کراچی نیز، سهام۱۰شرکت برتر تحت عنوان ۱۰۰ KSE برای کل کشور شمرده می شود.

نرخ بین بانکی:

پاکستان نیز شاخصی همانند لایبور را تحت عنوان کایبور تعریف نموده که طی هشت سال گذشته، بین ۲/۲تا ۱۳/۹۴درصد در سال متغیر بوده است.

تجارت خارجی:

نظر به انکشاف روند صنعتی در کشور و افزایش سهم بخش خدمات و صنعت، حجم تولید به ویژه در بخش صنایع از افزایش قابل توجهی برخوردار بوده و این کشور، برنامه ریزی مفصلی جهت افزایش صادرات به عمل آورده است.

با وجود افزایش ۲۲۰درصدی صادرات پاکستان طی دو سال گذشته، واردات ۳۸۰ در صدی، تجارت خارجی این کشور را تهدید کرده، به نحوی که میزان تراز منفی تجارتی از کل صادرات کشور فراتر رفته و صرفا وصول درآمد ۶/۵میلیارد دالری پاکستانی‌ها مقیم خارج، ورود سرمایه‌گذاری خارجی به کشور و استقراض از داخل و افزایش قرضه های دولت توانسته است، این تراز منفی را تحمل نماید.

قرضه ها و ذخایر مالی:

تداوم روند تراز منفی تجارتی و کسر بودجۀ دولت طی دهۀ گذشته، بیماری مزمن استقراض از بانک مرکزی و افزایش قرضه های دولت به داخل و خارج را سبب گردیده است.

ذخایر مالی کشور در سال ۲۰۰۹به بالاترین سطح خود یعنی بالغ بر ۱۶/۵ میلیارد دالر رسید که به علت تقویت بنیۀ مالی کشور توانست، ضمن بهبود نسبت قرض با تولید ناخالص داخلی در کنترول بازارهای پولی نیز، موفق عمل کند.

در عین حال، اقبال شرکت‌های خارجی به سرمایه‌گذاری در داخل و همچنین روند ورود درامد پاکستانی‌ها مقیم خارج در تقویت ذخایر اسعاری موثر واقع گردید.

اما متعاقب تحولات سیاسی پاکستان از جمله ترور بینظیر بوتو و آسیب‌های اقتصادی مستقیم و غیرمستقیم به علت هرج و مرج در این کشور، بین ۷تا ۱۰ میلیارد دالر برآورد خسارات اقتصادی کشور با خروج سرمایه و کاهش روند ورودی اسعار، مواجه گردید.

همین امر، در کاهش ۴۰درصدی ذخایر اسعاری و در نتیجه، کاهش قدرت نظام بانکی و پولی کشور موثر واقع شد، به نحوی که مسوولان این کشور طی رایزنی های مکرر با کشورهای دوست از جمله عربستان، امارات و سایر کشورهای عربی در خواست تقسیط قرضه ها و ارایۀ نفت به صورت نسیه و یا دریافت قرضۀ کم سود شدند.

اما در پاکستان، مسألۀ امنیت غذایی نیز بسیار مهم است. پاکستان دومین اقتصاد بزرگ جنوب آسیا به شمار می‌رود، با این حال، بخش اعظم جمعیت ۱۸۰ میلیون نفری این کشور در فقر زنده گی می‌کنند. این کشور به علت بحران شدید اقتصادی سال ۲۰۰۸، با تورم ۲۰ درصدی مواجه شد.

افزایش قیمت ها در این کشور، امنیت غذایی پاکستانی‌ها را بیش از پیش تضعیف کرد.

وضع زراعت در پاکستان در سال ۲۰۰۹استثنایی بوده، اما نیمی از مردم این کشور، به غذای کافی دسترسی ندارند. سال گذشته ، فایو ، برنامۀ جهانی غذا و اتحادیۀ اروپا در قالب ص۳

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۶۵۷۴۷۵۷ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

اراده ورځپانه یوازې د سرلیکنې ننګه کوې، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپانه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) فغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامۀ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیري
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : نبي "پیاوړی"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمد"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.
ایمیل: erada.daily@yahoo.com

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mujib Rahman Amiri
Designer: Nabi "Paiwarry"
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com